**بسم الله الرحمن الرحيم**

**(ژباړه)**

## د اسلام احکام د انساني فطرت مطابق دي

له سهل بن سعد رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**لا يَزَالُ النَّاسُ بِخَيْرٍ مَا عَجَّلُوا الْفِطْرَ**» [رواه البخاري: ۱۸۵]

**ژباړه:** *تر هغو چې خلک په روژه‌ماتي کې بیړه کوي، خیر او نېکي به یې تل په برخه وي.*

د اسلام دین د خپلو احکامو او اوامرو په عملي کولو سره دغه ډول موږ خوښی او نېکمرغی ته رسوي. په روژه‌ماتي کې بیړه کول ډېر ستر حکمتونه لري؛ یو دا چې په اسلام کې له افراط او غلو څخه لرېوالی دی، له یهودو او نصاراوو سره مخالفت او د انبیاءعلیهم السلام د اخلاقو پیروي ده. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي، چې په روژه‌ماتي کې بیړه د پیغمبرانو اخلاق دي او دغه کار د ډوډۍ خوړلو یو ادب دی.

تر هغو چې خلک په روژه‌ماتي کې بیړه کوي، تل به په خیر او نېکمرغۍ کې وي. دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیغام دی، تر هغو چې خلک په روژه‌ماتي کې بیړه کوي، تل به یې خیر او نېکمرغي په برخه وي. خلک د دغه امر د پرځای کولو په صورت کې په یو ډول عبادت کوي او د یو شرعي حکم په پلي کولو سره د داسې ثواب او زیات خیر مستحق کېږي.

پر همدغه اساس که چېرې د اسلام ټول احکام پلي شي، څه به کېږي؟ که چېرې د الله سبحانه وتعالی شریعت پلی شي، څه ډول به وي؟ که چېرې دغه ټول خاین حکام گوښه کړي او پر ځای یې واحد خلیفه وټاکي، ترڅو د خلکو چارې سمبال کړي او د ټولو ستونزو په حل کې ورسره مرسته وکړي، نو څه به پېښېږي؟

له شک پرته چې د اسلام په حاکمیت او د خلیفه په شتون کې لوی خیر دی؛ ځکه د اسلام تطبیق د انسان له فطرت سره سم او جوړ دی. الله سبحانه وتعالی انسان د هغه فطرت له مخې پیدا کړی، چې له احکامو سره یې په بشپړه توگه جوړ او سم دی. پر همدغه اساس که چېرې انسان نېکمرغه ژوند غواړي، نو دغه نظام او احکام باید په خپل ژوند کې پلي کړي. له دې پرته به له بدبختۍ او ستونزو سره مخ وي. دا موضوع د هغه ستونزمن ژوند دلیل روښانه کوي، چې په دې ورځو کې بشریت ورسره لاس و گرېوان دی؛ ځکه بشریت د خپل خالق او پروردگار له نظام څخه لرې شوی او په همدغه دلیل په بدبختۍ کې ژوند کوي. د الله سبحانه وتعالی دغه قول پر دوی صدق کوي:

﴿**وَمَنْ أَعْرَضَ عَن ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنكًا**﴾ [طه: ۱۲۴]

**ژباړه:** *هر څوک چې زما له ذکر څخه مخ واړوي، ژوند به یې سخت (له کړاونو ډک) وي.*

اې ربه! موږ ته د نبوت پر منهج راشده خلافت را په برخه کړه، چې په واسطه یې د مسلمانانو ستونزې حل شي او مصیبتونه او بلاوې ورڅخه لرې شي. اې ربه! په خپل کریم نور سره ځمکه روښانه کړه. اللهم آمین آمین!

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**